نعمان دوست

۲۰۲/۰۹/۱۱

# داغ، داغ مخ

د ټکسیوان ږیره له نیمایي ډیره سپینه شوې وه. مخ یې لکه کابل ښار چې د تنظیمونو له لاسه داغ داغ و، همداسې داغ داغ و.

لاره کې یې راسره د هغه وخت کیسې کولې چې کابل ښار د اعلاء کلمت الله د کاذبو دعوه دارانو ترمنځ د واک په سیالۍ کې په تنور بدل شوی و او د خپلو ښاریانو اندامونه پکې وریتیدل.

صحت عامې څلور لارې ته نږدې یې ټکسي ورو کړه، یوې برخې ته یې ګوته ونیوله او بیا یې ویل:

د وزیر اکبر خان پر سړک راغلم او همدلته له خپل زاړه بایسکل سره ولاړ وم. کنجوغه کې مې د اوړو بوجۍ تړلې وه؛ خو له دې څلور لارې تیریدل له پل صراطه کم نه ول. د دوستم ملیشې (ګلم جم) په داسې ځای کې وې، چې دا څلور لارې ورته ښکاریده او چې هر څوک به یې ولیده په سرو مرمیو یې ورته هرکلی کاوه. خو چاره نه وه. بچیان مې وږي ول. ټول یاد سورتونه مې په ځان چوف کړل او بیا مې بایسکل روان کړ. دوه درې مرمۍ مې له څنګ تیرې شوې؛ خو اجل مې نه و.

اوس چې هر وخت دلته رسیږم، هماغه وخت را یاد شي او پښې مې سستې شي.

ربښتیا،

اوس همدا د صحت عامې څلور لارې د هماغې خونړۍ جګړې د یوه قوماندان په نوم یادیږي.

په مړو پسې خبرې نه وي په کار. خو د خواخوږۍ له مخې یې وایم چې دا ټپل شوی نوم دې ترې بیرته تراش شي، داسې چې هیڅوک یې په دې نوم یاد نکړي. ځکه یو خو له دې نوم سره هغه سړی هیڅ منطقي رابطه نه لري. دلته یې حتی یوه خښته هم نه ده ایښې او بل دا چې د څلور لارې پخوانی نوم غصب شوی او غصب حرام دی. بل دا چې هرچاته چې د هغې دورې جنګي ډلې مشران یادیږي؛ له درده ورته یا کنځل او یا ښیرا کوي او مړي په بد نوم یادول نه وي په کار.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ